بسم الله الرحمن الرحیم

## د ظالمانو ملاتړ مه کوئ

**خبر:**

ولسمشر رجب طیب اردوغان د لومړي ځل لپاره د شانگهای همکاریو سازمان (SCO) په ۲۲مه غونډه کې گډون کوي. دا خبره چې ترکیه د دې سازمان غړیتوب نه لري، خو په خبرو اترو کې یې گډون کوي او د دغې غونډې له گډونوالو سره به گډ عکس هم اخلي؛ د دې لپاره مهمه ده چې له دغو هېوادونو سره د ترکیې اړیکې ټینگېږي او دا یې د اسیا له تر ټولو ځواکمن امنیتي سازمان سره، چې د چین، روسیې او هند پشان غړي لري، خبرې اترې پیاوړې کوي. (۲۰۲۲م کال، د سپټمبر ۱٦مه - خبري آژانسونه)

**تبصره:**

د شانگهای همکاریو سازمان ۲۲مه غونډه چې د کرونا وبا پر وخت پیل شوه، د اوکراین له جگړې سره هم‌مهاله وه او د خوراکي توکو او انرژۍ د نړیوال بحران تر سیوري لاندې ترسره شوه، د نړۍ هېوادونه ورته لېواله دي. د دغې لېوالتیا تمرکز پر دې دی چې روسیه د اروپایي هېوادونو د طبعي گاز او اړتیا وړ خوراکي توکو د پام وړ برخه کنټرولوي چې اروپا سخته اړتیا ورته لري. د اوکراین په اوږده جگړه کې د روسیې گواښوونکې او له خپلو داخلي تولیداتو د ملاتړ پالیسي له شک پرته تر ټولو ډېر اروپایي هیوادونه گواښي.

دا غونډه په دې سبب هم یو څه مهمه ده چې امریکا هڅه کوي چې په ځانگړي ډول په اقتصادي او سیاسي برخو کې د روسیې د گوښه کولو لپاره د خپلې پالیسۍ له مخې روسیه له چین څخه جلا کړي. د امریکا پالیسۍ تر دې دمه روسیه له پوځي، سیاسي او اقتصادي پلوه کمزورې کړې او غواړي چین له روسیې سره په اړیکو کې د ارامۍ احساس ونه کړي. خو که چین په بېلابېلو سیاسي لوبو کې بوخت نه کړای شي، په همدې انگېزه د دې چارې دوام له احتماله لرې خبره ده.

په دې غونډه کې اصلي خبره چې باید بحث پرې وشي د مسلمانانو د حکامو او د دوی د بې هویتۍ موضوع ده ... د دې غونډې له گډونوالو یو یې چین دی چې مسلمانان شکنجه کوي، نسل‌وژنه یې کوي، گوښه کوي یې او

قتل عام کوي يې. يوازې پر دې بسنه نه کوي، بلکې د مسلمانانو عقايد، ارزښتونه او مقدسات تر پښو لاندې کوي او په ډېرو سپکو لارو د دوی عزت او کرامت ته سپکاوی کوي.

بلې خوا ته حکام د روسيې له ولسمشر سره په ورين تندي عکسونه اخلي چې په سوريه کې له ظالم اسد سره مليونونه مسلمانان سلاخي کوي او له نيړدې لسو کالو راهيسې د دوی د کډوال کېدو سبب ګرځي. همدارنګه ټولو ته د ازبک او قزاق واکمنانو ظلمونه هم معلوم دي، چې پر خپلو خلکو يې کوي. د دغو ظالمو، کافرو او ترهګرو دولتونو له مشرانو سره يوځای کېدل او له هغوی سره په ورين تندي او موسکه خوله عکس اخيستل، وياړ نه، بلکې شرم دی. سربېره پر دې، مسلمانان بايد د دغو بې عقلانو دغو شعوري کړنو ته متوجه وي؛ ځکه چې دوی دې سياسی ذلت ته د خپلې سياسي هوښيارۍ په سترګه ګوري.

هر عاقل انسان پر دې پوهېږي، چې په ختيځ او لوېديځ کې د غربي کفارو لخوا رهبري کېدونکي او تاسيس شوي سازمانونه، تړونونه او تاسيسات يوازې د کفارو د ګټو ساتلو وسيلې دي؛ خو د اسلامي هېوادونو سطحي فکره حکام دې ته خوشحاله دي چې په يادو سازمانونو کې تشه برخه واخلي. هغه پوښتنه چې هر مسلمانا يې بايد له خپلو واکمنانو وکړي دا ده چې؛ له کفارو مو ملاتړ بس نه دی؟ ايا له کفارو سره په ګډه مو پر مسلمانانو ظلم او د دوی ټولوژنې بس نه دي؟

په حقيقت کې مسلمانان په هغو عکسونو خوشاله کېږي چې حکام يې له مظلومانو سره د ظالمانو پر وړاندې د درېدو پر وخت اخلي. هغه حکام چې د خپلو مسلمانو وروڼو او خويندو د وينې د يوه څاڅکي بهېدو په سبب د کفارو پر وړاندې ټول پوځونه بسيج کړي. مسلمانان پر دې خوشاله کېږي چې د اسلامي هېوادونو واکمنان بايد د چين ظالم رژيم په ناپاکو پيسو خپل لاسونه ککړ نه کړي، ځکه چې ختيځ ترکستان او ورته سيمې د چين د ظالم رژيم له لاسه د مرستې لپاره چغې وهي. مسلمانان پر دې خوشاله کېږي چې حکام يې د خدای د رضا لپاره له پوتين سره، چې لاسونه يې د مليونونو مسلمانانو په وينو سره دي، د دښمن په توګه چلند وکړي. دا چې مسلمان حکام د امريکا او اروپا په امر او استازيتوب عمل ونه کړي. مسلمانان داسې واکمنان غواړي چې له ټولو کفارو مخ واړوي او د خپلو مسلمانو وروڼو ترڅنګ ودرېږي. دا هغه سياست دی، چې تاسې به پرې وياړئ او خپل ارزښت به پيدا کړئ.

دا کار د خلفاوو دی، هغوی له فرصتونه ګټه پورته کوي، يوازې له الله سبحانه وتعالې څخه ويره لري او خپله شتمني د الله د دين په لار کې لګوي. موږ الله سبحانه وتعالې ته دعا کوو، چې دا ورځې ژر راولي.

# د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر ته

احمد سپا

ژباړه: محمد هارون رؤفي